**PRESS RELEASE**

20 August 2023
Press contact: spokesperson-UNAMA@un.org

**يوناما د افغانستان له واکمنو چارواکو څخه غواړي چې د شکنجې د بندولو او د بنديانو د حقونو د خونديتوب لپاره بيړني او ګړندي ګامونه پورته کړي**

**جينيوا/کابل - د ۲۰۲۳ کال د سپتمبر ۲۰مه** - په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي (يوناما) په خپل يوه تازه رپوټ کې چې نن خپور شو، د بشري حقونو د سرغړونو څه باندې ۱۶ سوه قضيې ثبت کړيدي چې د افغانستان د واکمنو چارواکو لخوا د افرادو د نيولو او وروسته د توقيف پرمهال ترسره شويدي.

د يوناما د بشري حقونو د څانګې دغه رپوټ د ۲۰۲۲ کال د جنورۍ له لومړۍ د ۲۰۲۳ کال د جولای تر ۳۱مې پورې موده کې د افغانستان د ۳۴ ولايتونو له ډلې په ۲۹ ولايتونو کې دبشري حقونو د سرغړونو قضيې ثبت کړې دي.

نږدې پنځوس سلنه تاوتريخوالی يوازې د شکنجې او نورو ظالمانه، غير انساني يا سپکاوي وړ چلند يا سزا اړوند کړنې جوړوي. دغه پيښې په عمده توګه د واکمنو چارواکو د کورنيو چارو وزارت (MOI) او ددوی د استخباراتو دعمومي رياست (GDI) تر واک لاندې توقيف ځايونو کې د نيولو او د توقيف په جريان کې په پراخه کچه ترسره شويدي. په نادره مواردو کې د واکمنو چارواکو د زندانونو د ادارې (OPA) تر واک لاندې زندانونو کې هم ورته پيښې مستندې شويدي.

د اعترافاتو يا نورو معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه توقيف شوي کسان د فزيکي وهلو، بريښنا شاټونو، ساه بندولو، فشار او په جبري ډول د اوبو د څښلو، سترګې تړلو او ګواښلو له لارو له سخت درد او کړاو سره مخامخ شوي دي. و کيلانو ته د لاسرسي د نشتوالي په ګډون د قانوني پروسو نشتون معمول چاره ده.

دغه سرغړونې د زندانيانو د بشري حقونو د لا بنې ساتنې او د امنيتي منسوبينو د چلند د تنظيم په موخه د حکومت له لوري دصادرو شويو لارښودونو سره سره رامنځ ته شوي دي.

رپوټ موندلې چې د ۲۰۲۲ کال په جنورۍ کې د واکمنو چارواکو د مشر لخوا د چلند د خپاره شوي کوډ په ګډون د يولړ ورته نورو لارښودونو سره سره، دغه لارښوودونه په عملياتي کچه په پوره اندازه نه دي تعقيب شوي.

راپور په يوشمير برخو کې د ښېرنو د ترسره کولو د وړتيا په ګډون دواکمنو چارواکو د امنيتي برخې او زندانونو د چارواکو د مسلکيتوب بيړنۍ اړتيا ته اشاره کړې.

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کميشنر ولکر تورک وويل: "د وهلو ټکولو، برقی شاټونو، د اوبو اړوند شکنجې، او د افرادو او د هغوی د کورنيو پر وړاندې د ګواښونو ترڅنګ د ډيرو نورو ظالمانه او سپک چلند شخصي رپوټونه ځوروونکي دي. شکنجه په هر ډول حالت کې منع شوې ده".

" دغه رپوټ ښيي چې شکنجه همدارنګه د اغيزمنو ښېرنو... پرځای د يوې وسيلې په توګه کارول شوې. زه له ټولو اړوندو چارواکو څخه غوښتنه کوم چې د دې ناوړه چلند د مخنيوي لپاره کوټلي ګامونه پورته کړي او عاملينو سره يې حساب وکړي،..."

" د شکنجې د ترويج مسله او په توقيف کې د خونديتوب له کړنلارو څخه دسيستماتيکو سرغړونو، لکه وکيلانو ته د لاسرسي د نشتوالي مسلې بايد د واکمنو چارواکو لخوا په هر اړخيزه توګه حل شي."

اوسني واکمن چارواکي بايد داسې ګامونه پورته کړي چې د پياوړو حقوقي مرستو چوکاټ رامينځته، او د جرمي قضيو د عدالت په بهير کې خنډونو ته رسيدنه وشي چې له اغيزمن قضايي څار پرته د خپل سرو نيونو د لوړې کچې له امله رامينځته شويدي. خپلسرې نيونې او د نيول شويو کسانو د ښېرنو د بشپړيدو د انتظار د مودې اوږيدو، له توقيف شوي کسانو د ناوړه استفادې خطر رامنځته کړيدي.

راپور د توقيف ځايونو د قوي نظارت د يقيني کولو لپاره اخيستل شوي ګامونه تاييدوي، له هغې ډلې د واکمنو چارواکو د کورنيو چارو وزارت او د استخباراتو GDI د بشري حقونو د رياستونو، او د واکمنو چارواکو د زندانونو د څارنې د کميټې، د اوسنيو

واکمنو د سترې محکمې د کمیټو، همدارنګه د فرمانونو او احکامو د تعقیب او څارنې د نوي عمومي عالي ادارې د کار دوام چې دنده یې له توقیف ځایونو څارنه او د ناوړه ګټه اخیستنې د تورونو څېړنه ده.

افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې او د یوناما مشرې روزا اوتنبایوا وویل : " که څه هم د مشرتابه لخوا د لارښودونو په برخه کې ځینې هڅونکي نښې شته، او همدا رنګه له یوناما سره د رغنده ښکیلتیا لپاره د ډېرو واکمنو چارواکو لیوالتیا ترسترګو کیږي او له زندانونو د لیدنې اجازه ورکول شوې، خو دغه مستند شوې قضیې د ټولو لخوا د بیړنیو او ګړندیو اقداماتو اړتیا په ګوته کوي. "

" له واکمنو چارواکو سره د نورې ښکیلتیا لپاره جدي اړتیا لیدل کیږي چې دغه اعمال پای ته ورسیږي او زه هیله لرم چې دغه رپوټ او سپارښتنو ته به لومړیتوب ورکړل شي. موږ خپلو هڅو او د افغانستان خلکوته ژمن یو چې له دوی سره په بې طرفه ډول او ښه نیت رغنده ښکیلتیا ولرو."

افغانستان د یو غړي هېواد په توګه د بشری حقونو او بنسټیزو آزادیو په اړه د ګڼو نړیوالو تړونونو پر درناوي مکلف دی. یوناما د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا دنده لري چې د دې مکلفیتونو پلي کولو ته وده ورکړي او ملاتړ یې وکړي.

پای

* د یوناما د بشري حقونو څانګه، چې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمیشنرۍ ددفتر استازیتوب هم کوي، په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت د څارنې، راپور ورکولو او دعدالت غوښتنې په برخو کې ددغه ماموریت مشري کوي، چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا دند ورکړل شوې.

* * *